PASHTO

4 نومبر 2024

**د Lakeside عالي ښوونځي د وروستي کال زده کوونکې د لباس قانون له مدافع وکیلې څخه د ریاست سلاکارې په توګه وټاکل شوه**

کله چې د 2024-2025 ښوونیز کال د دولتي زده کوونکو مشورتي شورا د نومبر په میاشت کې خپله لومړۍ غونډه پیل کړې نو د Lakeside عالي ښوونځي د وروستي کال زده کوونکې Anna Katz به هم د هغو خلکو له جملې څخه وي چې په Georgia کې د زده کړې راتلونکې جوړوي. په داسې حال چې د دولتي ښوونځي له آمر Richard Woods لخوا په ټول هیواد کې یوازې له 74 زده کوونکو څخه د یوې زده کوونکې په توګه غوره شوې، Anna به سږکال په یاده شورا کې نه یوازې د خپل ښوونځي بلکې د DeKalb کاونټي ښوونځي ولسوالۍ (*DCSD*) استازیتوب وکړي.

"زه خورا زیاته خوشحاله وم" Anna د خپلې ټاکنې څخه د خبرېدو یادونه وکړه. "ما سمدلاسه د هغو موضوعاتو په اړه فکر کول پیل کړل چې ما غوښتل په غونډو کې یې د څېړنې په خاطر راپورته کړم."

د وکالت لپاره د Anna لیوالتیا د خپل ښوونځي د دوهم کال په جریان کې هغه وخت رامنځته شوه کله چې هغې د DCSD د لباس قانون په اړه خپل نظر وړاندې کړ. وروسته له دې چې په دې پوهه شوه چې موجوده مقررات د عصري ټولنیزو اصولو څرګندونه نه کوي نو هغې خپل نظر په ښکاره او عامه توګه څرګند کړ — دا یو داسې اقدام دی چې د زده کوونکو په هوساینه باندې د تمرکز کولو سربیره په ولسوالۍ کې د هغوي انفرادیت ته د درناوي په خاطر د تګلارې بیاکتنې لپاره مهم و.

Anna وویل چې "دې تجربې زه په دې پوهه کړم چې پریکړه کوونکو ته لاسرسی څومره زیات اغیزناکه دی." "کله چې تاسو په مستقیم ډول له مسؤلینو سره اړیکه نیولی شئ نو د بدلون رامنځته کولو لپاره د مدافع وکیل په توګه کار کول خورا اسانه دي. د زده کوونکو په مشورتي شورا کې شاملیدل د دولت په کچه د زده کوونکو د غړونو استازیتوب کولو لپاره یو مناسب فرصت تعبیروي.

آمر Woods د شورا نویو غړو لپاره خپله لیوالتیا څرګنده کړه.

آمر Woods وویل چې "دا ځوانان مشران د Georgia د راتلونکي استازیتوب کوي او د دوی غږ خورا مهم دی په داسې حال کې چې موږ په خپل ایالت کې د زده کړې لاربښوونې ته دوام ورکوو". "زه د دوی د نظرونو، ځیرکتیا او لرلیدونو اوریدلو ته سترګې په لار یم څکه چې موږ په ګډه کار کوو ترڅو ډاډ ترلاسه کړو چې هر زده کونکی(ې) د بریالیتوب فرصت لري."

د دولتي زده کوونکو مشورتي شورا چې د Georgia د پوهنې ریاست لخوا رامنځته شوې زده کوونکي د تګلارې په جوړونه کې ښکیلوي. شورا د دې خبرې ډاډمنتیا ورکوي چې د زده کړې تګلارې په ټول ایالت کې د متنوع زده کوونکو د یوځای کولو له لارې خپلې تجربې څرګندوي. غړي د خپلو مشرتابه، د ټولنې خدمت او اکادمیک لاسته راوړنو له مخې غوره کیږي.

یاده شورا د زده کوونکو او د زده کړې دولتي چارواکو ترمنځ د حیاتي اړیکې په توګه کار کوي. په ټول کال کې، غړي د دولت د تګلارو په اړه بصیرت وړاندې کوي، د کلیدي تعلیمي ستونزو په اړه بحث کوي، د خپلو ښوونځیو استازیتوب کوي او په Georgia کې د ټولنې خدمتونو اړونده پروژو کې برخه اخلي.

په داسې حال چې د DCSD یوازینۍ استازې او په میټرو اتلانتا کې یوه له څو څخه ده، Anna د هغو زده کوونکو د متنوع نفوس څخه په کلکه خبره ده چې هغه یې استازیتوب کوي او د پراخه لیدونو پراخولو ته ژمنه ده.

هغې وویل چې "زه یوه ښځینه زده کوونکې او یهودنه یم نو زه کولی شم دغه تجربې شریکې کړم." "خو زه دا منم چې زه د هسپانوي، تور پوسته یا نارینه زده کوونکو تجربو باندې په بشپړه توګه نه پوهیږم. دا ما ننګوي چې په فعاله توګه واورم او د خپلو غوږونو په جریان کې د دوی اندیښنې وړاندې کړم."

یو له هغو مهمو ستونزو څخه چې Anna یې حل کول غواړي په ښوونځیو کې انضباطي نابرابري ده. په Georgia ټیکنالوژۍ انسټیټیوټ کې د دوه ګوني داخله لرونکې زده کوونکې په توګه، هغه د عامه تګلارې ټولګې د هغې پروژې له لارې دې موضوع ته ژوره پاملرنه کوي چې په اتلانټا عامه ښوونځیو کې د ښوونځي دسپلین توپیرونو باندې تمرکز کوي. د ښوونځي د بورډ غړي سره په ملګرتیا هغه د دې خبرې پلټنه کوي چې څنګه تور پوسته زده کوونکي د خپلو سپین پوسته سیالانو په پرتله په غیر متناسب ډول په لوړه کچه دسپلین ټینګ کړی.

Anna وویل چې "لومړی شی چې زه غواړم د شورا سره وربانديې کار وکړم هغه دا دی چې څنګه کولی شم د دې دسپلین توپیرونه کم کړم او ډاډ ترلاسه کړم چې ټول زده کوونکي په ښوونځي کې دي." "او د ښوونځي د پرینسپلانو هغه کچې په ګوته کړم چې د ښوونځي د دسپلین څخه رامنځته کیږي."

د مدافع وکیلې په توګه د خپلو هڅو سربیره، Anna د خپل ښوونځي په ټولنه کې یوه فعاله مشره ده. هغه د یهودي زده کوونکو اتحادیې د مشرې په توګه دنده ترسره کوي او د Mock Trial ټیم همکاره مشره ده. په داسې حال کې چې د مدني حقونو د مدافع وکیلې کیدو هیله لري، هغه په شورا کې خپل رول د پراخو ټولنیزو اغیزو په لور د پرمختګ په توګه ګوري.

هغې وویل چې "زه د DeKalb ټولو زده کوونکو استازیتوب ته سترګې په لار یم." "زه هیله لرم چې موږ به له خپل ځان سره عدالت وکړو او داسې مثبت بدلونونه به رامنځته کړو چې د ټولو په ګټه وي."

XXX